UNAMA
United Nations Assistance Mission in Afghanistan
Strategic Communications
http://unama.unmissions.org

## د ملګرو ملتونو د امنيت شورا ته د افغانستان د عمومي منشي

## د ځانګړي استازي ګزارش

**(لکه څنګه چې وړاندې شوي دی، ۲۰۱۰ کال د سپتمبر ۲۹)**

ښاغلي رئيس، زه له تاسو څخه مننه کوم چې موږ ته مو په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ټول سيسټم په استازيتوب دا فرصت راکړ چې امنيت شورا ته لنډ معلومات وړاندې کم.

په تيرو څو مياشتو کې ډير څه پيښ شوي دي، لکه څنګه چې په افغانستان کې په معمول ډول سره پيښيږي. زما د وروستي لنډ ګزارش راهيسې، څېنې کلېدي پېښې رامنځته شوي دي. زه غواړم د هغو پيښو پر ځينو باندې بياکتنه وکړم، کوم چې د وروستيو او خورا تمه کيدونکې پارلماني ټاکنو څخه مخکې واقع شوي دي، ترڅو په افغانستان کې د ترسره شويو پرمختګونو ليد او انځور له لاسه ورنکړو.

اجازه راکړئ د هغه پېښې سره پيل کړم چې شورا ورسره په زياته کچه بلد او آګاه دی ځکه چې زيات شمېر په هغه کې ګډون کړی و - د کابل کنفرانس. هغه کنفرانس، چې د جولای د مياشتې په ۲۰ نېټه ترسره شوه، او په حقيقت کې د حکومت له خوا ژمنتيا پياوړې کړه چې د خپل راتلونکې ډير کنټرول په غاړه واخلي. دا هغه پيغام و چې موږ له کنفرانس څخه ترلاسه کړ.

يو ستر چمتووالی ترسره شو چې ډيری بيلابيل مسلې يې حل کړې، د وزارتونو ترمنځ پراخه همکاري او د نړيوالې ټولنې له خوا د افغان چارواکو او مدني ټولنو سره د لوړې کچې ښکيلتيا اړتيا په ګوته کول وه. د افغانستان حکومت، د هغه د خپلو افغان ملي امنيتي ځواکونو په ګډون، او زه خوښ يم چې زموږ ملګری د افغانستان د بهرنيو چارو وزير دلته زموږ سره دی ترڅو په عامه توګه واوري، او بايد د هغه ستاينه وشي، ځکه ټول هغه کسان چې په کنفرانس کې برخه اخيستې ول، د کنفرانس د تنظيم کولو او د هغې د پر مخ بيولو د لارو او طريقه څخه خوښښ او متاثره شوي و. دغه کنفرانس ستر لوژستيکي، تنظيمي او بنسټيز چمتووالي ته اړتيا درلود.

کنفرانس د کابل په پروسه کې يوه مهمه پېښه وه، لکه څنګه چې موږ يې اوس په دغه نوم يادو، چې د ولسمشر کرزي د دوهمې پرانيستونکې وينا پر مهال ياده شوه. پداسې حال کې چې هغه وينا د حکومتداري پراخه اجنډا جوړه کړه، کنفرانس د ګډو ژمنو د لړۍ په تشريح او توضيح کولو سره دغه اجنډا ته نور توضيحات ور اضافه کړ. په دغه ژمنو کې د کاري چوکاټ

پراختیا، واضح مهال ویشونه، د ملي لومړیتوب پروګرامونو لپاره معیارونه، د افغان امنیتي مشرتابه په لور پرمختګ، په حکومتدارۍ کې ښه والی، او البته، د فساد سره د مبارزې خورا جدي او مهم ټکی، مسلې شاملې دي.

له کنفرانس راپدیخوا حکومت د تخنیکي پلان جوړونې په ډګر کې یو شمیر مهم ګامونه اوچت کړي دي. لومړی، دا خپله اراده څرګنده کړې ده او موږ او تایید و چې دا به صورت و مومي که د ډله ایزو/ کلستر طریقو له لارې دوام وکړي، دا ځکه چې زیات شمیر وزارتونه د نړیوالې ټولنې سره په ګډه کار وکړي تر څو پر هوکړه شویو لومړیتوبونو باندې عمل او تعقیب کړي. دا د کنفرانس اصلي کړښه وه: د لومړیتوبونو د تشیخص لپاره هڅه کول چې موږ ټول وکولای شو خپل لومړیتوبونه د هغه سره بیا تنظیم کړو. دوهم، د دې سره د هغه ۲۱ ملي لومړیتوب پروګرامونو په لاره اچول پیل شوي کوم چې په کنفرانس کې ورباندې هوکړه وشوه.

دریم، حکومت د عامه مالي مدیریت د سمون لپاره سمدستي اقدام پیل کړی دی، کوم چې د ټولو لپاره یوه اندېښنه ده، د ۱۴ اړونده وزارتونو د بیاکتنې په ګډون، چې د مالیې وزارت لخوا د هغه مشري کیږي. څلورم، حکومت په ګوته کړې چې د اداري فساد پرضد د اجنډا باندې کارپیل کړي کوم چې په کنفرانس کې ورباندې هوکړه وشوه، چې په هغه کې د دې میاشتې تر پایه پورې د ګډ نظارت او ارزونې کمیټې رامنځته کول هم شامل دی.

راځئ چې اوس هغه مسلې ته وګورو چې په تیرو څو میاشتو کې زموږ لپاره لومړنې او مرکزی حیثیت درلود، د ټولټاکنو مسله. د ټاکنو لپاره د کمپاین موده د جون د میاشتې له ۲۳ نېټې څخه بیا تر سپتمبر د میاشتې تر ۱۵ نېټې پورې دوام درلود، او په ریښتیا سره - موږ نن سهار هم پر همدې مسلې باندې بحث کاوه - دا د ۲۰۰۵ کال د پیښو راپدیخوا د یو خورا لوی بدلون سره مشخص شوی و. خلک خپل ځانونه ښودل، خلک کمپاین کول، او ښځې هم په کمپاینونو کې حضور درلودل. د ټاکنو په دغه کمپاین کې فعالیت او ستر خلاقیت له ورایه ښکاره و. له ۲۵۰۰ څخه ډېر نوماندان - په دقیق ډول سره، ۲۵۲۱ تنه - د بیا ټاکنو لپاره ولاړ ول، د نږدې ۴۰۰ میرمنو – که دقیق ووایم ۳۹۸، تنه ښځینه نوماندان دي. له دې جلمې څخه، یوازې یوه ښځینه د کمپاین په جریان کې، د کمپاین څخه لاس په سر شوه، پداسې حال کې چې دغه شمېره په نارینه نوماندانو کې دوه تنه ول. دا د هغه زړورتیا او هوډ کچه هم نمایندګي کوی کوم چې دوي د دې ډیموکراتیک پروسې د برخې کیدو لپاره له ځانه ښودلې وه، خو وروسته معلومېږي چې څومره یوه پیچلې او کله ناکله، څومره ستونزمنه پروسه هم کیدای شي. د پارلمان د ۲۴۹ حاضرو غړو څخه، ۲۲۹ غړي د بیا ټاکل کیدو لپاره لیوالتیا څرګنده کړه، او همدارنګه، تر یوې اندازې پورې، په افغانستان کې په ډیموکراتیک سیستم باندې د باور ښکارندوی دی. د ۲۵۲۱ نوماندانو څخه، ډیری نوي ګډون کوونکي او ډیری نوي، ځوان شخصیتونه ول. البته، دا به وروسته ولیدل شي چې دوی د دې پروسې په پای کې په کوم موقف کې دي.

موږ باید هیر نکړو چې دغه ټاکنې یوه عمده لاسته راوړنه ده ځکه چې دا ډول ټاکنې ترسره او پلې کیږي. افغانستان لاهم په یوه ډیره سخته شخړه کې ښکېل هیواد دی. په حقیقت کې کله چې یوه ټاکنه په بشپړ ډول سره ترسره کیږي، د دې په پام کې نیولو سره چې د تېر ټاکنې څخه وروسته په دومره لنډه موده کې ترسره کیږي، او په پرتله ایزه توګه په ډیره یوه بې ثباته دوره کې - ځکه چې امنیت ندی ښه شوی، په حقیقت کې برعکس حالت یې ریښتیا ده، دا پخپله یوه لاسته راوړنه ده.

او پداسې حال کې چې کومه ستره پېښه هم ندی واقع شوي، ډیر نور امنیتي پیښې رامنځته شوې. که څه هم په ټولیزه توګه، دغه پېښې د ټاکنو د ګډوډولو لپاره کافي نه و. ثبوت دا دی چې نږدې ۴،۳ میلیون رایې صندوقونو کې اچول شوې دي. البته، موږ اوس اړتیا ولرو چې وګورو چې د دې اچول شویو رایو څومره اصلي رایه ورکوونکي پکې برخه درلوده، مګر دا د تیرو ټاکنو او همدارنګه د اوسني چاپیریال په پرتله خورا ستره لاسته راوړنه ده.

پداسې حال کې چې د امنيتي پېښو په اړه د ارقامو د د هماهنګ کولو کار لاهم روان دي، د ټاکنو په ورځ کې د امنيتي پيښو شمېر کابو ۴۹۰ پېښې اټکل شوې دې، چې دغه شمېره په تيرو ټاکنو کې ۲۹۰ ثبت شوي و. دا په خپله يو لوی توپير څرګندوي، مګر د دې پيښو اصلی اغيزې د پرتله کولو وړ دي، که چېرې لږ نه وي. بيا هم، ثبوت دا دی چې خلک رايې ورکولو ته ولاړل. د پيښو شدت کم و. د تيرکال څخه تر دې دمه د امنيتي وضعيت عمومي خرابوالی زيات و، چې دا هم بايد په پام کې ونيول شي.

تر دې دمه د اچول شويو ۴،۳ ميليون رايو څخه شاوخوا ۱،۶ ميليون راي، – موږ بايد وګورو چې دا د څومره رايه ورکوونکو په معنا ده – د ښځينه رايو ورکولو مرکزونو کې کارول شوي دي، يو بل د لوري شاخص چې موږ ټول بايد د هغه هرکلی وکړو. اصلی موضوع همداه دی. زموږ ټولو په وينا، که په ريښتيا سره ووېل شي، د ټاکنو عمومي ارزونې لپاره لا ډير ډير وختي دي، پرته له دې حقيقته چې ټاکنې ترسره شول او ۴.۳ ميليون افغان وګړي د رايو کارولو جرئت وکړل، او همدارنګه، د زيات شمېر خلکو په وينا، سيستمونه ښه شوي و. خو د پايلو د ليدلو لپاره بايد صبر وکړو، ځکه له همدې امله موږ د دې ارزونې په اړه محتاط يو. همدارنګه موږ اړتيا لرو چې وګورو چې په ټولو ولايتونو او هيواد په کچه کې د رايې ورکولو اصلې توازن څومره برابره او يا نا برابره وه.

د ټولو په وينا، د ټاکنو خپلواک کميسيون د تير کال د ولسمشرۍ ټاکنو په پرتله د پام وړ پرمختګ ښودلی دی، سره له دې چې ډيرې امنيتي او لوژستيکي ننګونې هم شتون درلود. د تير کال برعکس، د ټولو رايه اچونې مرکزونو موقعيت د رايې ورکولو له ورځې څخه يوه مياشت مخکې په عامه توګه اعلان شوي و. شورا به په ياد ولري چې تير کال، د ولسمشرۍ ټاکنو په جريان کې، د رايې ورکولو مرکزونو ليستونه د رايې ورکولو څخه دوه ورځې مخکې خپور شول، او دا ترټولو لوی دليل و چې ولې د درغليو په اړه دومره انديښنه وه. دا ځل دا يوه مياشت دمخه خپور شول. دا شايد د درغليو د کمولو ترټولو لوی اقدام و چې د لوي او سيستميک درغليو څخه د مخنيوي لپاره اخيستل شوي و. د پام وړ ننګونو سره سره، د رايې ورکولو توکي په ډيرو ځايونو کې په خپل وخت ورسيدل، او د رايې ورکولو 5,510 مرکزونه پرانيستل شول، د 5,897 څخه چې د اګست د مياشتې په 18 نېټه اعلان شوي وو. بل لوی پرمختګ د رنګ په ګډون د حساسو موادو ډيزاين، کارولو او ليږد لپاره امنيتي ترتيبات و. زه فکر کوم چې د بهرنيو چارو وزير رسول او زه لاهم په خپلو ګوتو سره شاهدي ورکولای شو چې هغه رنګ چې موږ کارولی و، لږترلږه، خورا نه پاکيدونکی و، او د لسو ورځو وروسته زه لاهم د هغې د لرې کولو په هڅه يم. موږ په عامه ډول سره خپلې ګوتې په ځينو سپينولو محصولاتو کې غوټه کړل، او دا لاهم ندی پاک شوي. دا پدې معنی ندي چې په ځينو ځايونو کې جعل ندی ترسره شوي، مګر هغه رنګ چې د ټاکنو لپاره په پراخه کچه چمتو شوی و د ښه کيفيت لرونکې و.

پدې ويلو سره، دا ځل ټولټاکنې يو لوی د خونديتوب عنصر درلود، چې موږ ته يې ډاډ راکول چې لږترلږه به د تيرو ټاکنو په پرتله په دقيق ډول سره وڅارل شي. موږ ۳۹۷۰۰۰ ملي څارونکي درلودل، او دوی په خپله د هر نوماند ګټې يې څارل. په دغه ظرفيت کې دوی د ستر اغيزمنتيا استازيتوب کول او غوښتل يې ډاډ ترلاسه کړي چې لږترلږه په ستره کچه درغلی ترسره نشي. حساس مواد هم په خوندي ډول سره وليږدول شول، سره له دې چې طالبان دوه ځله د دې پروسې د ګډوډکولو ګواښ کړی و.

په هرصورت، دا يوازې د پروسې پيل دی. له همدې امله، د شورا په استازيتوب، په افغانستان او بهر کې، موږ اوس محتاط يو او هڅول شويو او هوډ لرو چې د ټولټاکنو ميکانيزم ملاتړ وکړو ترڅو مخ په وړاندې ولاړ شو، او موږ هڅه کوو تر څوافغان خلک وهڅوو چې احساس کړي چې دغه پروسه د ګواښ منلو ارزښت لري ځکه چې ډيموکراسي مخ په وړاندې روانه ده، خو اوس مهال موږ د احتياط څخه کار اخلو ځکه چې موږ اړتيا لرو چې وګورو پايله څه وړاندي کوي. د ځينو خواره واره درغليو او يقيناً د ډيرو ستونزو سره سره ، پايله به په زياته کچه پدې پورې اړه ولري چې ايا د ټاکنو خپلواک کميسيون او د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون ۳۹۰۰ شکايتونو په اړه د رسيدو لپاره به زغم، زړورتيا، بې طرفي او هوډ ولري او وايي چې کوم سم دي او کوم غلط دي، او بايد د اکتوبر د مياشتې له 30 نېټې څخه مخکې دا پريکړه وکړي.

۲۰۰۰ بایلونکي به شتون ولري په داسې حال کې چې د ۲۵۲۱ نوماندانو له جمعې څخه یوازې ۲۴۹ بریالی نوماندان د پوستو لپاره وټاکل شي، حال دا چې بایلونکي نوماندان، پرته له کوم چاري څخه ، لا دمخه شکایتونه کړي دي. بیا هم مهمه خبره دا ده چې ایا د ټاکنو کمیسیونونه به وتوانیږي د باور وړ په لاره باندي ودریږي. موږ چمتو یو چې د دوی سره ودریږي او د هغوی ملاتړ وکړو، خو دا د افغانانو مسؤلیت دی.

د ټاکنو د پایلو په اړه، زموږ له خوا، موږ باید دغه پروسې لپاره د اړتیا وړ مهالویش ورکړو، کوم چې د اکتوبر د ماشتې تر ۳۰ نیټې پورې دی، د ابتدایي پایلو لپاره د اکتوبر د میاشتې تر ۸ نیټې پورې او د وروستی پایلې لپاره د اکتوبر د میاشتې تر ۳۰ نېټې پورې ټاکل شوی دی، ممکن لږ یا ډېر، د هغه سخت کار پر بنسټ چې دوی به یې اوس ترسره کوي. موږ باید له وخته څخه مخکې قضاوت ونه کړو. موږ باید په یاد ولرو چې د تیر کال د ټاکنو په پرتله مثبت پرمختګونه - له کوم څخه چې موږ ټول، د ملګرو ملتونو په ګډون، ټول کلیدي تجربې تر لاسه کړل، چې د پایلو په اړه د هر ډول اعلان ورکولو مخکې محتاط واوسو، مخکې له دې چې د ټاکنو پایله روښانه شي – دا به موږ محتاط خو ملاتړکوونکي کړي د مخ په وړاندي پراته ګامونو په اړه تر څو د افغان ولس لپاره د پروسې د بشپړتیا او حساب ورکول ډاډمن کړي. وروستی نظریات د میاشتې په پای کې به څرګند شي.

کله چې ټاکنې پایلې، په یوه او یا بله بڼه، په بریالیتوب سره پای ته ورسیږي، هیله ده چې د ټاکنیز نظام او د راتلونکي اوږدمهاله ټاکنیز اصلاحاتو په اړه ریښتینې بحث پیل شي. موږ لا دمخه پدې پوهیږو. دلته ډیری خلک لا دمخه پدې اړه لیوالتیا لري او همدارنګه د افغانستان ولس هم. یوناما به د حکومت، ټاکنیزو ادارو او ټولو اړوندو افغان او نړیوالو شریکانو سره، په ځانګړې توګه د اروپایي اتحادیې سره، به په ګډه کار وکړي.

د اروپایي اتحادیې استازی، ویګاډاس اوساکس چې موږ ورسره، لکه څنګه چې محترم شورا پوهیږي، له نږدې کار کوو، لا دمخه یې په عامه توګه د اروپایي اتحادیې لیوالتیا ښودلې چې د افغان حکومت سره د ټاکنیزو اصلاحاتو د اجنډا د پروسې ملاتړ کې مخکښ ونډه به ولري. موږ هم به پخپله وار سره د دې ملاتړ وکړو. دا به په ډیر احتمال سره د ټاکنو قانوني چوکاټ باندې تمرکز وکړي، د ټاکنیزو مهالویش پاییښت، ځکه چې موږ نشو کولای په هرو دریو میاشتو کې ټاکنې ولرو؛ د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون اوږدمهاله موقف، کوم چې یوازې نه پلان شوي او آنې دی، دا د خپلواک ټاکنو کمیسیون په پرتله، دغه نهاد ډیر ماتیدونکي جوړوي، په ټول هیواد کې یو واحد ټاکنیز محرک څرخ، څرنګه چې شورا پوهیږي، موږ دا نهاد نلرو؛ اود ټولو مسلو زړی، د دواړو ټاکنیزو کمیسیونونو د ظرفیت جوړول دی.

نو په رادار کې څه راځي؟ معلومه ده، کال پیل شو، لکه څنګه چې شورا آګاه دی، د یو لړ ګامونو د ایښودلو سره. لومړی د استانبول کنفرانس و. وروسته بیا موږ د لندن کنفرانس درلود، ورپسې د سولې مشورتي جرګه دایره شوه او، بیا د کابل کنفرانس او اوسهم ټولټاکنې ترسره شو.

راتلونکي پرمختګ څه دی؟ معلومه خبره ده، یوه پراخه سیاسي پروسه. موږ دا واوریدل، او پرون مو له ولسمشر کرزي څخه د افغان ټولنې د شا خواوو د ۶۷ تنو څخه زیات غړو سره د سولې د عالي شورا د پیل په اړه توضیحات واوریدل. موږ، د امنیت شورا لخوا موږ ته د ورکړل شوي ماموریت پر بنسټ، او د کابل پروسې په ملاتړ به پر دغه باندي تمرکز وکړو. په ورته وخت کې موږ به په لیوالتیا سره، او په بالقوه ډول او د پام وړ ملاتړ سره، د لیرد پروګرام ولرو چې ممکنه ده لومړي د لسبون په سرمشریزه کې او بیا په کابل کې ورباندي بحث وشي.

زه خوښ یم چې دلته زموږ سره زموږ همکار او ملګري، مارک سډویل، چې د نړیوال امنیتي مرستندویه ځواک (ایساف) لوړ پوړی ملکي استازی دی، حضور تایید کړم. په نورو وختونو کې ما دلته دا فرصت درلود چې ووایم چې موږ څومره له نږدې سره یوځای کار کوو او دا څومره مهمه ده چې موږ په دې لاره کې کار کوو ترڅو د هر ډول ناوړ درک څخه مخنیوی وشي، او

ډاډ ترلاسه شي چې افغان ولس احساس وکړی چې موږ، په نړیواله کچه ټول، د افغانانو د مشرۍ اخیستلو ملاتړ کې سره یوځای یو.

نن، زه غواړم ځینې مهم شرایط روښانه کړم چې د کابل پروسې کې زموږ په خوا کې د یاد شوي لار نقشې لپاره اړین دي. د کابل پروسه یوازې یو تکنوکراتیک عمل نشي کیدای. ټول شریکان باید د اجنډا څخه زیاتره په سیاسي توګه ښکیل شي. موږ پوهیږو چې موږ کولای شو په دغه عرصه کې د ولسمشر کرزي پر مشرتابه باندي حساب وکړو.

دوهم، موږ اړتیا لرو چې د نویو اجنډاګانو یا سیالي کوونکو نوښتونو څخه مخنیوی وکړو. موږ باید د هغو لومړیتوبونو په پیژندلو تمرکز وکړو چې د کابل په کنفرانس یاد شوي دي چې موږ باید لومړی ورسره مبارزه وکړو، او خپلې ګډې هڅې د دوی پر تعقیب متمرکز کړو. حکومت د هغو لومړیتوبونو په اړه یو سیګنال لیږلی دی چې دوی یې تعقیبوي، د ملي لومړیتوب پروګرامونو او د عامه مالي مدیریت اصلاحات پلي کول. موږ اړتیا لرو چې د دې اجنډا ملاتړ وکړو، او موږ پلان لرو چې په هغې کار وکړو.

دریم، موږ، نړیواله ټولنه، اړتیا لرو چې د حکومت د لومړیتوبونو پر بنسټ د خپلو سرچینو تنظیم او یا د سرچینو د بیا تنظیم باندی نظر وکړو او د عمل برخه وګرځو. ملګري ملتونه په کابل کې د " واحد ملګري ملتونه" چلند ته ژمن دي، ترڅو موږ، د نورو شریکانو نه یوازې په بیا تنظیم کولو کې، بلکه بیا تنظیم کولو او مرسته کولو کې کار وکړو.

څلورم، موږ باید د لا زیاتو، د پایلو پر بنسټ هڅو، ته دوام ورکړو، ځکه چې افغان ولس له موږ او افغان حکومت څخه غوښتنه کوي. زه هوډ لرم چې د ګډې همغږۍ او څارنې بورډ (JCMB)، چې د راتلونکې غونډې دمخه د نومبر په پای کې ترسره کیږي، له حکومت سره په ګډه کار وکړم، ترڅو ډاډ ترلاسه کړم چې بورډ، پرته له دې چې کوم نوي ارګانونه او یا نوي ادارې رامنځته کړي، بیا ژوندی شي او د کابل د اصلي تعقیبي کنفرانس تعقیب کوونکې وي.

البته، دا ټول به یوازې هغه وخت پرمخ لاړ شي که چیرې دا د یوې بشپړونکې، جوړښتي سیاسي پروسې دننه د یوې پیاوړې سولې او بیا یوځای کیدو پروګرام ته تحرک ورکړي چې د متقابل درناوي پر بنسټ د راتلونکي افغانستان پخلاینې پروګرام ته لار هواره کړي.

په نړیواله ټولنه کې په دې اړه یوه سراسری اجماع او هوکړه شتون لري چې د افغانستان لپاره نظامي حل نشته. په پای کې، حل لاره باید سیاسي او افغاني کیدای شي او باید وي، یوه داسې حل لاره چې یوازې د پراخ سیمه ایز ملاتړ او داسې حل سره مکمل کیدای شي چې موږ ټول د هغه په لور کار وکولای شو. پرون، د افغانستان حکومت یو ډیر مهم لومړنی ګام پورته کړی، او یوناما، د خپل ماموریت سره سم، به د دې ملاتړ لپاره هر هغه څه ترسره کړي چې کولای شي.

راتلونکې څو میاشتې به خورا مهمې وي، لومړی، د ټاکنو د تعقیب په اړه، او دویم، د دې په لټه کې چې انتقال به څنګه معقول کیداي شي، سم تنظیم شي او د افغانانو او نړیوالې ټولنې په نظر کې یو صادقانه تکلاره ثابت شي.

لیږد د وتلو په معنی نه دی؛ دا د لیږد په معنی ده، او د افغانستان حکومت به زموږ د ټولو څخه د هر ډول ممکنه ملاتړ ترلاسه کول دوام ومومي ترڅو هغه څه چې موږ ټول د سولې او پخلاینې نوښت د تحقق د لبډو په هیله یو.

ښاغلي رئیس ستاسو په اجازه زه به خپلې خبري همدلته  ودروم.